مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ډاکټر لودویګ آدمک
ترجمه: رحمت آریا

۲۰۲۶/۰۳/۱۸

# د افغانستان بایوګرافیکي قاموس
## دوهم ټوک
## (اتلسمه برخه)

### طاهر بدخشي

د وکیل ظاهر زوی په بدخشان کې زېږېدلی دئ په بدخشان کې او د حبیبیې په لیسې کې ئې زده کړې کړې او له ۱۹۵۸ تر ۱۹۶۲ز کال پورې ئې د کابل پوهنتون د اقتصاد په پوهنځي کې تحصیل کړی دئ. له ببرک کارمل سره او د افغانستان د خلق ډیموکراتیک ګوند له بنسټ اینښودونکی نور م. تره کي سره د افغانستان د خلق ډیموکراتیک ګوند بنسټ اینښودونکی، او په ۱۹۶۵ز کال کې د مرکزي کمیټې غړی. په ۱۹۶۷ز کال کې د پرچم د فرکسیون خوا ئې ونیوله. ګوند ئې خوشې کړ او د ۱۹۶۸ز کال په شاوخواوو کې ئې (مارکسیستي پښتني ضد ډلګۍ ستم ډله جوړه کړله. د سلطان علي کشتمند له خور سره ئې وادهٔ کړی دئ. د ۱۹۷۸ز کال په دوبي کې د کابل د پلچرخي په زندان کې زنداني سو. د ۱۹۷۹ز کال د سپتمبر د میاشتې په ۱۷ نېټې د حفیظ الله امین د واکمنی پرمهال اعدام سو.

### هلال الدین بدري

د محمد عالم زوی په ۱۹۱۹ز کال کې په مزار شریف کې زېږېدلی دئ. خصوصي زده کړې لري. د بلخ د مجلې مرستیال محرر. د مزار شریف د مستمندانو لپاره د مرستون مدیر. د مزار شریف د ښاروالی سکرتر، د پطرولیم تحفصات. په ۱۹۶۴ز کال کې د بلخ له ولسوالۍ څخه د ولسي جرګې غړی. د پلار وطنی ملي جبهې / جبهۀ ملي پدروطن د ولایتي کمیټې رئیس. په ۱۹۸۵ز کال کې په لویې جرګې کې د بلخ استازی. مورنی ژبه ئې وزبیکي ده.

**باعث** : وګورئ : باحث

### محمد بشیر بغلاني

د ۱۹۸۳ز کال د اکتوبر په میاشت کې د عدلیې وزیر او لوی څارنوال. په ۱۹۸۵ز کال کې د عدلیې وزیر او په ۱۹۸۵ز کال کې لوی څارنوال.

### ډاکټر سید عبدالقادر بها

د سید بهاءالدین زوی په ۱۹۲۸ز کال کې په لوګر کې زېږېدلی دئ. په ۱۹۴۸ز کال کې د استقلال له لیسې فارغ سوی او په ۱۹۵۴ز کال کې ئې د طب د ډاکترۍ سند د کابل له پوهنتون څخه تر لاسه کړ. په ۱۹۵۵ز کال کې فرانسې ته لاړ او په ۱۹۵۶ز کال کې ئې طبي روزني ولیدله. په ۱۹۷۰ او په ۱۹۷۲ز کال کې د لبنان په اې. ی. بي. کې د پوهانو


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

په غونډو کې ئـې [1] ګډون وکړ. د کابل پوهنتون د طب د پوهنځي پوهاند ، په ۱۹۷۱ز کال کې د کابل پوهنتون رئیس. په ۱۹۷۲ز کال کې د صدراعظم سلاکار. له ۱۹۸۱را وروسته په لویدیځ جرمني کې ژوند کوي.

## ډاکټر زرجان بها

د ۱۹۳۸ز کال په شاوخواوو کې د وردکو په ولایت کې زیږېدلی دئ. لیسانس ئـې د کابل له پوهنتون څخه تر لاسه کړی دئ؛ ماستري ئـې د «پوردو» [2] له پوهنتون څخه او دکتورا ئـې په ۱۹۷۳ز کال کې د «نارث کارولاینا» [3] له دولتي پوهنتون «ریلیګ» [4] څخه تر لاسه کړې ده. په ۱۹۷۴ز کال کې د ودانیزو چارو/ ساختماني انجنیرۍ پوهاند، او له ۱۹۷۵ تر ۱۹۷۹ز کال پورې د کابل پوهنتون د انجنیرۍ د پوهنځي رئیس.

## عبدالغفور باهر

په ۱۹۳۲ز کال کې په الیشنګ کې زیږېدلی دئ؛ د لغمان د آخوندازده له کورنۍ (د آخوند زاده ورور چې په ۱۹۷۸ز کال کې ووژل سو). د ابوحنیفه په مدرسې کې ئـې زده کړې کړي او د کابل پوهنتون د شرعیاتو له پوهنځي څخه فارغ سوی دئ. ورپسې د قاهرې د الازهر د پوهنتون فارغ. د لغمان له الیشنګ څخه د ولسي جرګې غړی. په ۱۹۶۶ز کال کې ئـې مسکو ته د صدراعظم میوندوال د رسمي سفر ملتیا وکړه. په ۱۹۸۰ز کال کې د معارف د وزارت د دیني چارو د ریاست رئیس. په ۱۹۸۲ز کال کې د یونسکو د روزني تر پروګرام لاندې وو. په ۱۹۸۴ز کال کې ئـې په پاریس کې د یونسکو د روزني په پروګرام کې ګډون وکړ. په ۱۹۸۵ز کال کې د اسلامي چارو وزیر. د ګوند غړی نـهٔ دی. مورنۍ ژبه ئـې پښتو ده.

## بهرالدین باعث

د بدخشان په درواز کې زیږېدلی دئ. د کابل په عربي دارالعلومو کې او د کابل پوهنتون د شرعیاتو په پوهنځي کې ئـې تحصیل کړی او خپل لیسانس ئـې تر لاسه کړی دئ. د داؤود او د مارکسیستانو د حکوماتو مخالف وو. (د طاهر بدخشي د ډلې) ستم ملي پیرو. دا هم شوني ده چې د ساما (سازمان آزادیبخش مردم افغانستان) غړی هم وو. په ۱۹۷۸ز کال کې ونیول سو، یو ځل وتښتـېد خو د تره کي د رژیم له پلوه په پټه اعدام سو. یو بل روایت وایي چې مائوئیستي سرې تښتوونکو. دی د امریکا د سفیر په بدل کې غوښت؛ نور روایتونو دغه روایت غندي او نـهٔ ئـې مني.

## حاجي عبدالواحد بهره

د رحیم داد زوی په ۱۹۰۲ز کال کې د هرات د غور په دروازې کې زیږېدلی دئ. خپلې زده کړې ئـې په کور کې کړې دي. عربي متون ئـې ولوستل او د هرات په دارالمعلمینو کې شامل سو او په ۱۹۲۱ز کال کې فارغ سو. د معارف مشر او په ۱۹۳۱ز کال کې د هرات د ادبي ټولني مرستیال. په ۱۹۳۵ز کال کې د منځني ښوونځی سرښوونکی/ سرمعلم.

[1] - colloquium
[2] -Purdue University
[3] -North Carolina State University
[4] -Releigh


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

په ۱۹۳۸ز کال کې د انصاري په ښوونځي کې. د هرات د روغتیا د بنسټ مدیر. په ۱۹۵۹ز کال کې د ولسي جرګې غړی. شاعر او لیکوال.

## عبدالله بختانی خدمتگار

د ملا آغا جان زوی، په ۱۹۲۷ز کال کې په جلال آباد کې زېږېدلی دئ. په دري، پښتو او عربي ژبو ئې په یو شمېر قرآني ښوونځیو کې زده کړې کړي دي. په ۱۹۴۷ز کال کې د معارف د وزارت د جلال آباد په څانګې کې کاتب. په ۱۹۴۸ز کال کې د پښتو ښوونکی. په ۱۹۵۲ز کال کې د پښتو اکاډیمی غړی. په ۱۹۵۲ز کال کې د «زیري» [5] د خپروني محرر. په ۱۹۵۶ز کال کې د «اتحاد مشرق» د نشراتي بورډ غړی. په ۱۹۵۷او ۱۹۶۰ ز کال کې د ننګرهار د مجلې مدیر. په ۱۹۵۹ز کال کې د مطبوعاتو د ریاست غړی، کابل. په ۱۹۶۰ز کال کې د پښتو ټولنې غړی، او په ۱۹۶۷ز کال کې د ادبیاتو جنرال ډایرکټر یا عمومي مدیر. د بختاني آثار : شعر او ادب : ۱۹۵۴ز کال؛ پښتون لارې [6] ۱۹۵۶ز کال (چې په ادبیاتو کې ئې د رحمان بابا جایزه وګټله؛ د زړهٔ راز یو شعر ۱۹۵۶ز کال (چې په ادبیاتو کې ئې د خوشحال خان جایزه وګټله؛ ګڼ شمېر مقالي او رسالي او په بېلابېلا مستعارو نومونو اشعار. په ۱۹۸۰ز کال د هېواد د ورځپاڼي سرمحرر. د لیکوالانو د اتحادیې د مشرتابهٔ غړی.

## غلام جیلاني باختري

د غلام محي الدین زوی په ۱۹۳۲ز کال کې د کابل په ختیځ کې د کمریو په کلي کې زېږېدلی دئ. «غلام محي الدین د ببرک کارمل د تورې/ خاله مېړهٔ وو». په ۱۹۵۲ز کال کې د حبیبیې له لیسې او په ۱۹۵۷ز کال کې د کابل پوهنتون د حقوقو او سیاسي علومو له پوهنځي څخه فارغ سوی دئ. د دولت د مرکزي تفتیش د ریاست غړی. د کرنې په وزارت کې د اقتصاد او اداري ریاستونو مشر. له ۱۹۶۲ تر ۱۹۶۳ز کال پورې ئې د «پیټسبرو» [7] په پوهنتون کې عامه اداره لوستې او خپله ماستري ئې تر لاسه کړې ده. په ۱۹۶۳ز کال کې د کرنې د وزارت د اقتصاد د ریاست مشر. د کرنې په وزارت کې د پلان جوړولو او تخنیکي انستیتیوت مشر او سلاکار. د کورنیو چارو د وزارت د احصائیې د ریاست رئیس. له ۱۹۷۳ تر ۱۹۷۵ز کال پورې د کرنې او اوبو لګولو د وزارت وزیر. د ۱۹۸۰ز کال د فبروری له ۳ نېټې وروسته د صدراعظم سلاکار. د ۱۹۸۰ز کال د مې په میاشت کې د هنګري سفیر.

## روستا باختري

په کابل کې زېږېدلی دئ. لیکل ئې په ۱۷ کلنی کې پیل کړل. د غاښونو غیر متخصص ماهر. د انیس د ورځپاڼې د کارکوونکي ډلې غړی. په ایران کې ئې د سیاسي علومو زده کړې کړي دي. په ایران کې ئې خپل ادبي اثر «کلکین/ کړکۍ» خپور کړ. د ژوندون د مجلې کارکوونکی. د کابل د ځوانانو د کلب/ کلب جوانان، مدیر. د ژوندون مرستیال مدیر. د هرات د اطلاتو او کلتور د ریاست مرستیال. د ۶۰ په شاو خواکې ئې مقالات او رسالې او ناولونه خپارهٔ کړل چې

---

[5] -Zarey
[6] - Pashtun ways
[7] - Pittsburgh


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

اکثریت ئـي د «دیده بان» په مستعار نوم خپارهٔ سوي دي. «ستاسو د ماشومانو د راتلونکي» په نوم ئـي یو لاربښودېز / آموزنده اثر خپور کړ.

### واصف باختري

د کابل له پوهنتون څخه ئـي لیسانس تر لاسه کړی او همدا شان د امریکا په متحده ایالاتو کي ئـي تحصیل کړی دئ. شاعر، ادبي کره کتونکی او لیکوال د مزارشریف له ولایت څخه. د معارف په وزارت کي د ښووني او روزني د ریاست غړی. د حفیظ الله امین د واکمنی پر مهال زنداني سوی دئ. د ۱۹۸۰ز لسیزی په اوږدو کي د لیکوالانو د اتحادیو د مشرتابـهٔ غړی.

## نور بیا

### سید محمد اسماعیل بلخي

د ۱۹۲۰ز کال په شاو خوا کي په بلخ کي زېږېدل...

قدرمنو لوستونکو! د ښاعلی رحمت آریا د آرشیف: لینک


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکي په ځیر و لولـئ